# مسیر

ورځپاڼه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۸مه | د ۲۰۲۱ د مارچ اتمه | ۶۷۲یمه گڼه


# گوتځنډنه او خبرداری؛

## امریکا افغان چارواکو ته: د وتلو پرېکړه مو لا نه ده لغوه کړې، ښايي جگړې شديدې شي



۳

### د مارچ اتمه؛ نمايش او د چارواکو تشې ژمنې

۲ مخ

### چرا موفقیت روند صلح افغانستان به پیمان جدید در سیاست ...

۲ مخ

### د چين د دوو مجلسونو د کلنيوغونډو پرېکړې پر نړيوالو څه اغېز لري؟

۳ مخ

## روېټرز: خليلزاد له طالبانو غوښتي چې د تاوتريخوالي کچه د پام وړ راټيټه کړي

د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړي استازي زلمي خليلزاد له طالبانو غوښتي، چې تر اويا سلنې پورې د تاوتريخوالي کچه راټيټه کړي.

د روېټرز د راپور له مخې، سره له دې چې خليلزاد د افغانستان لپاره خپله نوې طرحه وړاندې کړې ده، خو دا طرحه د افغان حکومت او ځينو سياسيونو له غبرگون سره مخ شوې ده. روېټرز په يوه راپور کې د طالب سرچينو له خولې هم ليکلي، چې د بن کنفرانس ته ورته د يوې غونډې د جوړولو خبره له طالب مشرانو سره شوې ده او دغه راز له دوی غوښتل شوي، چې د تاوتريخوالي کچه تر اويا سلنې پورې راټيټه کړي.

طالب سرچينې ويلي، امکان لري چې له مقابل لوري سره د تاوتريخوالي پر کمولو توافق ته ورسېږي، خو پر اوربند خبرې کول به ډېر وخت وغواړي. روېټرز داسې مهال دغه راپور خپروي، چې خليلزاد کابل ته راغلی و او دمگړی په دوحه کې دی. هلته يې له طالب او د افغان حکومت له پلاوو سره پر بېلو مسايلو خبرې کړې دي. نړيوالې رسنۍ هم په دې اړه گڼ تحليلونه خپروي او په دې باور دي، چې امريکا غواړي د ملگرو ملتونو پر مټ افغان جگړه د تل لپاره ختمه کړي.

### د سولې په تړاو له وړاندې شويو طرحو بايد ونه وېرېږو



۵ مخ

## کاروبار

۴ مخ

### مايکروسافټ

مايکروسافټ په نړۍ کې د کمپيوټر جوړولو تر ټولو لويه کمپنۍ ده، چې نړدې هرې کورنۍ ته يې کمپيوټر رسولی دی.




### رحيمي: روان کال په لوگر کې ۲۰۰زره نوي مېوه لرونکي نيالگي اېښودل کېږي



د لوگر د کرنې رياست چارواکي وايي، چې په دغه ولايت کې د «زرغون لوگر» په نوم د نيالگيو اېښودو کمپاين پيل شوی، چې يوه اونۍ به دوام ولري.

ياد کمپاين د لوگر د والي عبدالقيوم رحيمي او د ياد ولايت د يوشمېر سيمه‌ييزو چارواکو او اوسېدونکو په گډون د لوگر ولايت د پوهنتون له انگړ څخه پيل شوی دی.

د لوگر والي عبدالقيوم رحيمي د دغه کمپاين په پيل کې ويلي، چې سږ کال به د دغه ولايت د مرکز پل علم په گډون په ټولو ولسواليو کې ۲۰۰ زره مېوه لرونکي او بې مېوې نيالگي کېښودل شي.

هغه زياته کړې: «هڅه مو دا ده، چې د نورو برخو ترڅنگ د لوگر ولايت ښکلا او زرغونتيا ته هم ډېره پاملرنه وکړو».

نوموړي د لوگر له ديني عالمانو، قومي مشرانو او د مدني ټولنې له غړيو وغوښتل چې د خپل هېوا د زرغونتيا لپاره له دولت سره په گډه کار وکړي.

### احدي: در سال ۱۴۰۰ به حدود سه میلیون تُن گندم نیاز داریم



زندگی بیشتر جمعیت افغانستان به زراعت بستگی دارد اما خشکسالی امسال نگرانی‌های جدی را ایجاد کرده و این احتمال را به وجود آورده که محصولات گندم این‌بار کافی نخواهد بود.

انورالحق احدی وزیر زارعت، آبیاری و مالداری افغانستان در صحبت با رادیو آزادی هم با ابراز نگرانی در این مورد گفت که افغان‌ها در سال ۱۴۰۰ خورشیدی به حدود سه میلیون تُن گندم نیاز خواهند داشت. آقای احدی در مصاحبه اختصاصی با رادیو آزادی گفت که آن‌ها در پی راه‌های همکاری و کمک با دهقان‌ها و افغان‌های نیازمند اند.

احدی می‌گوید: «پیشگویی این‌گونه است که امسال ممکن باران تقریباً ۳۰ درصد کمتر ببارد و ممکن که محصولات گندم هم ۳۰ درصد کمتر شود که طبعاً مشکل را خلق خواهد کرد. ما همین حالا امسال که وضعیت خوب‌تر هم بود تقریبا در حدود ۱.۵ میلیون تُن گندم کمتر داریم برای سال بعدی ممکن که ۲.۹ میلیون تُن گندم کمبود داشته باشیم.»

به گفتهٔ آقای احدی، وزارت زراعت افغانستان قصد دارد تا سال آینده ۲۵۰ هزار تُن گندم از خارج کشور خریداری کند و همچنین سازمان‌های بین‌المللی را برای کمک به مردم در این راستا تشویق خواهد کرد. خشکسالی دهقان‌های افغان را هم نگران ساخته است.

حسین می‌گوید: «حسین استم از ولایت باغیس، امسال اینجا خشکسالی آمده، آب نیست اصلاً آب آشامیدنی هم وجود ندارد و مشکلاتی فراوانی را به مردم ایجاد کرده از حکومت می‌خواهم که با مردم کمک کند.»


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

سرلیکنه

# د مارچ اتمه؛ نمایش او د چارواکو تشې ژمنې

نن د مارچ اتمه د مېرمنو د یووالي له نړیوالي ورځې سره برابره ده. په نړۍ کې دا ورځ د ملګرو ملتونو د پرېکړې له مخې، هر کال نمانځل کېږي او پکې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي او نابرابریو غندنه کېږي. تر څنګ یې د دې ورځې یوه موخه هم دا ده، چې په ټولنو کې د مېرمنو حقوق خوندي شي او دوی په ټولو ټولنیزو برخو، په تېره د کار او دندو په برخه کې مصونیت ولري او له نارینه وو سره اوږه پر اوږه مدني او سیاسي فعالیتونه ولرلی شي.

افغانستان د یوه داسې هېواد په توګه چې اوږدو جګړو ځپلی، په تېرو شلو کلونو کې د ملګرو ملتونو او مرستندویه موسسو په مرسته د مېرمنو د حقونو په برخه کې لاس ته راوړنې لرلې، خو تر څنګ یې تر ډېره د دغو موسسو او بنسټونو مرستې شعاري دي. ان د حکومت ژمنې هم د مېرمنو د حقونو په برخه کې په ډېرو برخو کې شعاري دي او تر دوو یا دریو لویو ښارونو پورې محدودې دي.

همدا اوس افغان مېرمنې د هېواد په ډېریو لرو پرتو سیمو کې ان له خپلو لومړنیو حقونو بې برخې دي. د هېواد په ډېریو ولایتونو د مرکزونو تر څنګ په ولسوالیو او لرو پرتو کلیو او بانډو کې نجونې خپل لومړني حق ته چې زده کړې دي، لاسرسی نه لري. سره له دې چې په پلازمېنه کابل کې د ښځو چارو په نامه وزارت موجود دی، ملګري ملتونه د ښځو د وضعیت په ښه کولو کې مرسته کوي، امریکا د پروموټ او نورو پروژو په نامه د ښځو لپاره د میلیونونو ډالرو د لګولو خبره کوي، خو د دې د اغېز او پایلو په اړه تر اوسه کومه محسوسه بېلګه لرو؟ یوازې له څو محدودو مېرمنو پرته چې په همدې پروژو او دفترونو کې هسکې ټیټې کېږي، نور په کلیو او بانډو کې د مېرمنو په ژوند کې کوم تغیر راغلی دی؟

حکومت ځان د مېرمنو حقونو ته ژمن بولي. په حکومت کې د دوی د لا ډېر شمېر ځای پر ځای کولو خبره کوي. خو بیا هم خبره یوازې تر څو ښارونو محدوده ده. د کلیو او بانډو نجونې چې نن زده کړه و نه کړي، نن ښوونځی ونه لري او نن له نړیوالو مرستو برخمنې نه شي، نو سبا دنده په کوم سند او کوم مسلک کې ورکول کېږي؟ له دې ټولو ښکاري چې د حکومت ژمنې تش په نامه او نمایشي دي. دوی هم مېرمنې په ډېرو برخو کې یوازې د نړیوالو د مرستو د جذب او جنډر د مراعاتولو لپاره ګوماري.

که حکومت په رښتینې توګه په هېواد کې د ښځو او نجونو د ژوند ښه والی غواړي، نو تر ټولو ښه لاره یې دا ده، چې د افغاني فرهنګ په چوکاټ کې د دوی د زده کړو په لار کې شته خنډونه ختم کړي، د نمایشي پروژو پر ځای چې ګټه یې یوازې څو مېرمنو ته رسېږي، باید بنسټیز کارونه وشي، د دوی په نامه چې مرسته شوې پیسې چور کېږي، باید مخنیوی یې وشي. حکومت دې د افغان مېرمنو د ژوند لپاره په ټولنه کې شته بد فرهنګونه، دودونه او چاپېریال اصلاح کړي او د افغان حکومت په توګه دې افغان مېرمنې ته د عزت او پرمختګ ژوند جوړ کړي.

# چرا موفقیت روند صلح افغانستان به پیمان جدید در سیاست داخلی وابسته است؟



محمود صیقل
نماینده پیشین افغانستان در سازمان ملل

یکسال از توافقنامه آمریکا با طالبان گذشت. بازیگران کلیدی روند صلح؛ آمریکا، طالبان، افغانستان و پاکستان هر کدام از تطبیق آن روایت‌های خود را دارند.

دو بخش اول توافقنامه که در مورد تعهدات متقابل آمریکا و طالبان است، تا اندازه زیادی عملی شده است. بخش سوم که مذاکرات بین‌الافغانی است به نمایش تاکتیکی درآمده است و بخش چهارم که آتش‌بس دایمی است هنوز در حد یک خیال‌بافی مانده است.

طی یک سال گذشته، آمریکا هیچگونه تلفات جانی در افغانستان نداشته و حضور نیروهایش را به ۲۵۰۰ نفر تقلیل داده است. مصارف آمریکا در جنگ افغانستان در مقایسه با سال ۲۰۱۹ که ۳۸ میلیارد دالر بود، تقریباً پنج برابر کاهش یافته است. واشنگتن احتمال تمدید خروج فراتر از اول می ۲۰۲۱ و مشروط ساختن آن به پیشرفت مذاکرات صلح و همچنین حضور کوچک درازمدت برای رسیدگی به تهدید تروریزم برعلیه آمریکا را بررسی می‌کند و متحدانش قبلاً اشاراتی مبنی بر حضور درازمدت‌تر داده‌اند.

طالبان در بدل تضمین جلوگیری از هرگونه عمل علیه امنیت آمریکا و متحدانش و وعده نشستن به میز مذاکرات بین‌الافغانی، ٦۱۰۰ زندانی شان را از بند رها ساخته‌اند؛ اعتبار بیشتر بین المللی کسب کرده‌اند و در عین زمان با حفظ روابط با القاعده، به جنگ‌های شان با نیروهای امنیتی افغانستان و حملات تروریستی شهری به هدف تضعیف بیشتر نظام شدت بخشیده‌اند. ولی در رفع تعزیرات و تحریم‌های ملل متحد و آمریکا به مشکل روبرو استند.

افغانستان یگانه امتیازی که از توافقنامه به دست آورده، آغاز نشست رودر رو با طالبان است که هنوز دستور کار/ آجندای آن شکل نگرفته است. فراتر از آن از توافقنامه سخت متضرر شده است؛ به ادعای مسئولان ۹۰ درصد از زندانیان رهاشده طالبان به جنگ برگشته‌اند. تازه‌ترین گزارش ملل متحد نشان می‌دهد که پس از آغاز گفتگوهای بین الافغانی تلفات غیرنظامیان بیشتر شده است، مخصوصاً در خزان گذشته تلفات «وحشتناک و نگران کننده» بوده است. در این میان ده‌ها تن از علما (روحانیان)، فعالان جامعه مدنی و ژورنالیستان سرشناس مورد حملات تروریستی هدفمند قرار گرفته‌اند و فضای ترس و رعب در شهرها مستولی گردیده است.

پاکستان که سه سال قبل به خاطر حمایتش از خشونت طالبان، بطور بی‌سابقه زیر فشار بین المللی قرار گرفته بود، با حفظ شورای رهبری و اردوگاه‌های طالبان در داخل خاکش و تحویل دادن طالبان به صفت یک جناح بزرگ «نزاع بین الافغانی» و ظهور خودش به صفت «تسهیل کننده صلح»، بیشترین منفعت را از توافقنامه برده است. حالا اسلام آباد با تماس‌های گسترده با همه جناح ها، بالای بهره مندی بیشتر از روند صلح کار می‌کند.

قطر نیز به پاس تسهیلات در روند صلح افغانستان، به کمک آمریکا از انزوای دیپلماتیک بیرون شده و روابط خود را با کشورهای عربی مخصوصاً عربستان سعودی بهتر ساخته است.

پس دیده می‌شود که تا کنون بیشتر دیگران از روند صلح افغانستان مستفید شده‌اند و خود افغانستان و مردم آن نه تنها که از آن مستفید نشده‌اند که شاهد ازدیاد خونریزی‌ها بوده‌اند.

ناهمخوانی‌های توافقنامه دوحه و اعلامیه کابل

گرچه هدف مذاکرات مستقیم و امضای توافقنامه آمریکا با طالبان «آوردن صلح در افغانستان» عنوان شد ولی در واقعیت امر زیادتر ریشه در وعده‌های انتخاباتی آقای ترامپ مبنی بر خروج نیروهای آمریکا از افغانستان داشت.

از طرفی، این توافقنامه با اعلامیه مشترک افغانستان و آمریکا که در عین روز در کابل صادر شد، همخوانی نداشت که در همان آغاز مواردی را در هاله‌ای از ابهام قرار داد. به عنوان نمونه در توافقنامه دوحه سخن از تشکیل «حکومت اسلامی جدید» به صفت برآیند مذاکرات بین الافغانی است ولی در اعلامیه کابل از آن هیچ چیزی گفته نشده است.

در توافقنامه ذکری از پاکستان نشده است ولی در اعلامیه به نحوی افغانستان متهم به تهدید به امنیت پاکستان شده است. در توافقنامه حتی یک اشاره مختصر به جمهوری اسلامی افغانستان و دولت آن و یا اعلامیه کابل نشده است ولی در اعلامیه کابل چندین بار توافقنامه با طالبان ذکر گردیده است. در توافقنامه آمریکا «متعهد» به رهایی زندانیان دو طرف در یک وقت معین است ولی در اعلامیه امریکا «تسهیل کننده» آزادسازی شان است. در توافقنامه معیاد خروج نام رهبران طالبان از لست تعذیرات ملل متحد، سه ماه بعد از آغاز مذاکرات بین الافغانی است ولی در اعلامیه معیاد برای این کار حتی ۳۰ روز بعد از نهایی شدن توافقنامه، چارچوبی برای آتش بس دایمی و جامع تعیین شده است. به همین شکل اگر هردو سند دقیق مطالعه شود، تناقضات و کمبودی های دیگری هم وجود دارد.

گذشته از آن، نحوه امضای توافقنامه و محتویات آن، شبه دولت طالبان را رسمیت داده است و همین باعث بلند رفتن روحیه طالبان شده است.

با این همه، سال قبل در همین روز بسیاری در ارگ برای امضا و صدور هردو سند کف زدند و همدیگر را تبریک گفتند. معلوم است که در کابل این دو سند قبل از صدور بطور مقایسوی مطالعه نشده بود.

اشکالات در روند صلح و برون رفت از آن

در ماه اسد سال ۱۳۹۹ ، روسای حکومت و شورای عالی صلح با دایر کردن لویه جرگه مشورتی برای رهایی صدها تن از خطرناک ترین زندانیان طالبان زمینه سازی کردند و به نمایندگان مردم وعده دادند که با تصمیم شان در این مورد، ظرف چند روز طالبان با هیئت جمهوریت خواهند نشست و روی آتش بس صحبت خواهند کرد. به ادعای مسئولان طراز اول در کابل، نماینده آمریکا قبل از لویه جرگه «با لحن نسبتاً تهدیدآمیز» گفته بود که اگر زندانیان طالبان را رها نکنید، خشونت ها در افغانستان افزایش می‌یابد. اینکه چرا مسئولان یک کشور مستقل چشم بسته در خدمت نماینده یک کشور خارجی قرار گرفتند، قابل سئوال است.

با این همه، انتظار می‌رفت تا ترکیبی از خوبترین تخصص، ابتکار و تجارب موفق موجود به ابعاد پیچیده داخلی و خارجی مذاکرات رسیدگی کرده و زورق شکسته صلح را از دل طوفان‌ها به ساحل نجات مانور دهد. توقع می‌رفت طالبان نیز دیدگاه شانرا برای آینده کشور به تصویر کشند .

ولی بسیار زود رهبری مذاکرات بین الافغانی در اختیار عاملین ضعف و ناکامی نظام در کابل و سرسخت‌ترین مخالفان نظام در صفوف طالبان قرار گرفت. اینجاست که ابعاد نیابتی و تجارتی صلح پیشی گرفت و در مواردی هم ملاقات ها و مشورت‌ها و دفتر و دیوان و معیشت در کابل و دوحه به روند سیاست‌بازی‌ها و توجیه ادامه جنگ از مسیر صلح تبدیل شد .

در چنین فضایی، محتمل‌ترین سناریوی صلح توافق روی ایجاد یک اداره ائتلافی تقسیم قدرت متشکل از اکثراً عاملین ضعف و ناکامی نظام در کابل و دشمنان نظام در کویته و دوحه است که شاید برای مدتی صلح نسبی را با خود داشته باشد ولی افغانستان را بی ثبات‌تر و نظام را لرزان‌تر خواهد ساخت. طالبان با نادیده گرفتن توافق ۱۹۹۹ عشق آباد مبنی بر تقسیم قدرت با جبهه متحد آن وقت و بخش‌هایی از توافقنامه کنونی با آمریکا، و ارگ و سپیدار در تطبیق نکردن بخش‌های بزرگی از توافقات سیاسی ۲۰۱۴ و ۲۰۲۰ قبلا سوابق خوبی در تطبیق توافقات ندارند. بنابراین، میکانیزم تطبیق توافقنامه بعدی از چالش برانگیزترین بخش آن خواهد بود.

در همین حال، تعاملات و توافقات پراگنده کشورهای منطقه با شخصیت‌های سیاسی افغانستان، توام با سفرهای «رسمی» طالبان، در واقع انعکاس سیاست پاشان داخلی افغانستان و یارگیری‌های منطقه‌ای برای بازی‌های احتمالی صلح و جنگ بعدی است که در خلای انسجام و هماهنگی لازم، زنگ خطر تضعیف بیشتر حاکمیت ملی افغانستان را به صدا می‌آورد.

وقت آن است که قبل از هرگونه مذاکره با طالبان، اشتباهات گذشته در سیاست داخلی پذیرفته‌شده و عذرخواهی ملی صورت گیرد. صحنه را برای منطق، تخصص، ابتکار و تجارب موفق تنگ ساختن در واقعیت امر نظام را لرزانتر ساختن است. مذاکرات موفق برای صلح به ثبات درونی نظام ضرورت دارد و ثبات درونی نظام به یک پیمان جدید در سیاست داخلی، با تمرکز بالای زدودن بی اعتمادی و ظهور صدا و سیمای صداقت و درایت، یکپارچگی، قانونمندی و نظامگرایی واقعی نیاز دارد، تا بتواند روند صلح را در مسیر مناسب قرار دهد.

## اندرابي: طالبان د ژمنو خلاف د سختو جګړو لپاره چمتووالی نیسي

د کورنیو چارو وزیر مسعود اندرابي وایي، چې طالبان په راتلونکي پسرلي کې د جګړې لپاره چمتووالی نیسي. نوموړي په کابل کې خبریالانو ته ویلي، هغه اطلاعات چې امنیتي بنسټونو ترلاسه کړي، طالبان د جګړې لپاره چمتووالی نیسي، خو افغان امنیتي بنسټونه خبرې او سوله د حل غوره لاره بولي.

اندرابي پرون په کابل کې د ملي امنیت له سلاکار حمدالله محب او د دفاع وزارت له مرستیال او سرپرست شاه محمود میاخېل سره په ګډه غونډه کې خبریالانو ته وویل، طالبانو خپلې ژمنې نه دي عملي کړې او لکه څنګه چې تېر کال یې لاسته راوړنې نه درلودې په راتلونکي کال کې هم څه نه شي کولی.



هغه زیاته کړې: «زموږ ټول معلومات دا ښيي، چې طالبان په راتلونکي پسرلي کې د جګړې لپاره چمتووالی نیسي، طالبان په دې هڅه کې دي، چې تعیینات ولري، اکمالات ترلاسه کړي او جګړه پیل کړي، خو موږ هیله‌من یو چې دغه ډله د سولې لاره غوره کړي او د خلکو له وژنو لاس واخلي.»

اندرابي ویلي، چې په افغان امنیتي بنسټونو کې له ژورو اصلاحاتو وروسته د جګړې روحیه له پخوا پیاوړې شوې ده. طالبان بیا وایي، دوی سولې ته ژمن دي، خو هر هغه څوک چې د سولې پروسه له ستونزو سره مخ کړي، پر وړاندې یې جدي ګامونو پورته کولو ته چمتووالی لري. د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد ویلي، چې نظامي اقدامات د دوی وروستۍ پرېکړه ده.

په ورته مهال د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب په یادې غونډه کې په هېواد کې روان تاوتریخوالي ته په اشارې ویلي، له تېرو دوو اونیو راهیسې په کابل کې د تاوتریخوالي پېښې د پام وړ کمې شوې دي. محب زیاته کړې: «هغه اجراأت چې امنیتي بنسټونو له تېرو دوو اونیو راهیسې ترسره کړي، په تېرو دوو اونیو کې ٦٦ فیصده د تاوتریخوالي کچه راکمه شوې او دغه پرمختګ د کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست په همکارۍ شوی، د دې بنسټونو دغه هڅې به دوام ولري».



# د چین د دوو مجلسونو د کلنیوغونډو پریکړې پر نړیوالو څه اغېز لري؟

لیکنه: سپوږمۍ
د چین میډیا گروپ د پښتو څانگې خبریاله

اوسمهال په پلازمېنه بېجینگ کې د چین د ملي ولسي کانگرېس او ولسي سیاسي مشورتي کنفرانس کلنۍ غونډې رواني دي. چینایان دغه دوه ارگانونه دوه مجلسونه بولي. د چیني رسنیو د معلوماتو له مخې، یاد دوه مجلسونه د دغه هېواد د واک او سیاسي مشورو تر ټولو لوړ ملي مراجع دي چې هر کال یو ځل عمومي غونډې کوي او د یاد هېواد د دولت او واکمن گوند پر مشرتابه سربېره پکې له مختلفو پرگنو او گوندونو استازي گډون کوي، چې د دواړو مجلسونو مجموعي شمېر شاوخوا پینځو زرو ته رسېږي. په دغو مجلسونو کې د کال تر ټولو مهمو سیاسي موضوعاتو په اړه له بحث او غور وروسته د رای اچونې له لارې نهایي پرېکړه کېږي.

یادې غونډې نړۍ ته څه مثبت پیغام لري؟

هر کال د چین صدر اعظم د دوو مجلسونو په کلنیو غونډو کې د حکومت د تېر کال کاري ریپوټ وړاندې کوي او د استازو لخوا سنجول کېږي. له معمول سره سم، دغه کاري ریپوټ دوې برخې لري: یوه یې د تېر کال د حکومت کاري لاسته راوړنې او د تجربو غورچاڼ ده او بله یې د روان کال کاري پلانونه دي. د بېلگې په توگه، د چین صدر اعظم لي که چیانگ د مارچ په ۵مه د حکومت د کاري ریپوټ د وړاندې کولو پر مهال هیله وښوده، چې د ۲۰۲۱ کال لپاره د چین د کورنیو تولیداتو عمومي ارزښت له ٦ سلنې زیات پرمختگ ومومي او وېې ویل چې چین به په ۲۰۲۱ کال کې د خپلواکۍ او سولې ډیپلوماتیکو تگلارو ته دوام ورکړي، نړیوالو همکاریزو اړیکو ته به مثبت پرمختگ ورکړي، د انسانانو او نړیوالو اړیکو گډ برخلیک ټولنې ابادي به پر مخ بوځي، ورخلاصون او همکارۍ ته به دوام ورکړي، پر لا عادلانه او مناسب لوري د نړیوال اداري سیستم د گام پورته کولو لپاره به هڅې وکړي، نړیوالې او سیمه ییزې همکارۍ به ژورې کړي او د ساري ناروغیو د وقایې او مخنیوي په اړوندو همکاریو کې به مثبت گډون وکړي.

داسې معلومات پر نړۍ څه اغېز کوي؟

لومړی؛ د چین د اوسني او راتلونکي پرمختیایي حالت گراف معلومېږي. نړیوال به په دې پوه شي چې د چین حکومت به په روان کال کې د اقتصادي پرمختگ لپاره لا زیات کوښښونه وکړي، د چین راتلونکې ډیپلوماتیکې تگلارې به د سولې او خپلواکۍ پر لوري لا زیات گامونه پورته کړي او ښایي د کرونا وبا ضد نړیوالې همکارۍ کې لا مثبته برخه واخلي.

په اندونیزیا کې د اسیا څېړنیز مرکز مشر بنبانگ سورنویو په دې اړه ویلي، دا چې چین له تېر کال راهیسې په اقتصاد او کرونا وبا ضد مبارزه کې د لیدو وړ ښې لاسته راوړنې موندلې او د دغه هېواد او ټولې نړۍ لپاره مثبت اهمیت لري.

دویم؛ چین به له بریالیو تجربو څخه برخمن شي. د روسیې د علومو اکاډمۍ د لرې ختیځ څېړنیز مرکز مسوول اندري وینوگلادوف ویلي، چې د کرونا وبا ضد، د بېوزلۍ له منځه وړلو، د نړیوالې اداري د پرمخ بیولو، علمي او تخنیکي نوښتونو د هڅولو په گډون زیاتو برخو کې د چین او نورو هېوادونو ترمنځ همکارۍ مخ په زیاتېدو دي، نو هیله لري چې له چین سره اړوندې تجربې شریکې کړي.

درېیم؛ د چین په یادو کلنیو غونډو کې ښودل شوي مثبت معلومات او پیغامونه نړیوالو ته د اقتصادي سمسورتیا پیاوړی باور برابروي. تېر کال چین په نړۍ کې یوازینی عمده اقتصاد گرځېدلی چې مثبت پرمختگ یې وموند. دا د نورو هېوادونو لپاره تر ټولو ښه زیری دی چې ښایي دوی ژر د کرونا وبا ضد مبارزه کې بریالیتوب هم تر لاسه کړي او اقتصادي او ټولنیزې چارې هم بېرته خپل حالت ته وگرځي. د ترکیې د KEYMEN درملو شرکت اجرایه رییس زندیرک الاگز په دې اړه ویلي چې چین له نورو مخکې په خپل هېواد کې کرونا وبا کنټرول کړه او اقتصادي پرمختگ یې موندلی دی. دا ډېر وتلي بریالیتونه دي چې د نړیوالې ټولنې لپاره ښه نمونه ده.


نړیوالو ته به ولې د دې غونډو موضوعات مهم وي؟

۲۰۲۱ کال د چین د کمونېست گوند د جوړېدو له سلمې کلیزې سره برابر او د چین د ملي اقتصادي او ټولنیز پرمختگ د ۱۴م، پینځه کلن پلان پیل دی. د چین د ۱۳م ملي ولسي کانگرېس په څلورمه غونډه کې به پر ۱۴م پینځه کلن پلان او تر ۲۰۳۵ کال پورې د لرې موخو پر مسودې بحث وشي. دا په راتلونکو پینځو کلونو کې د چین تر ټولو مهمه ملي ستراتیژي ده، چې پکې د دغه هېواد د مختلفو ساحو، په تېره بیا اقتصادي چارو پرمختیایي لورې روښانه کېږي.

دا چې چین د نړۍ یو لوی صادراتي او وارداتي مرکز او ستر اقتصادي قدرت گڼل کېږي، له بلې خوا دا چې د یادو غونډو د بحث یوه موضوع د چین د وارداتو او صادراتو پر تگلارو غور کول او تاییدول دي، څکه نړیوال او بیا په ځانگړې توگه سوداگر دې پرېکړو ته پاملرنه کوي. د چین حکومت به په راتلونکې کې کومو چارو ته زیاته پاملرنه وکړي؟ په کومو برخو کې به زیاتې پانگونې وکړي؟ د وارداتو او صادراتو څه ډول تگلارې به پلې کړي؟ آیا بهرنیو پانگه اچوونکو ته به اسانتیاوې برابرې کړي او که نه؟ که تاسو یو سوداگر یاست یا پلان لرئ چې له چین یا چینایانو سره سوداگري او معامله وکړئ، دا ستاسو لپاره تر ټولو گټور او مهم معلومات دي.

# گوتڅنډنه او خبرداری؛

## امریکا افغان چارواکو ته: د وتلو پرېکړه مو لا نه ده لغوه کړې، ښایي جگړې شدیدې شي



رسنیو ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر هغه لیک لاس ته ورغلی، چې ولسمشر غني او د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکتر عبدالله عبدالله ته یې لېږلی دی. نوموړي ویلي، چې د افغانستان په اړه د امریکا تگلاره تر کار لاندې ده، خو افغان چارواکو ته یې په ځینو مواردو کې گوتڅنډنې کړې دي. ده له ولسمشر غني او د ملي مصالحې عالي شورا له رییس ډاکتر عبدالله عبدالله غوښتي چې له نورو سیاسیونو سره په گډه په افغانستان کې د جگړې د ختمولو لپاره هڅه وکړي او که د دوی تر منځ اختلافات دوام وکړي، نو ښایي د نویمو کلونو تېروتنه بیا تکرار شي.

سره له دې چې په دې وروستیو ورځو کې په کابل کې د سولې او نوي حکومت د جوړېدو په تړاو راپورونه خپرېدل، خو دا ځل رسنیو ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر نوی لیک لاس ته ورغلی دی. دغه لیک د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن ولسمشر غني او د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکتر عبدالله عبدالله ته لېږلی دی. بلېنکن په دې لیک کې ټینگار کړی، چې امریکا له ملگرو ملتونو د افغان سولې په تړاو د مرستې او همکارۍ غوښتنه کوي. د ده په خبره، واشنگټن له ملگرو ملتونو غواړي چې د افغانستان د سولې په تړاو د امریکا، روسیې، چین، پاکستان، ایران او هند د بهرنیو چارو وزیرانو یا ځانگړو استازو یوه غونډه راوبولو او په گډه د افغان جگړې د حل لپاره یوه لار پیدا کړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر همدا راز ویلي، چې ژر تر ژره دې د ترکیې په کوربه‌توب د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو لپاره زمینه برابره کړل شي او دواړه لوري دې د سولې په برخه کې یوې وروستۍ پرېکړې او هوکړې ته سره ورسېږي. د بلېنکن په خبره: «موږ دا قصد لرو چې له ملگرو ملتونو وغواړو، څو د امریکا، چین، روسیې، پاکستان، ایران او هند د بهرنیو چارو وزیرانو یا ځانگړو استازو یوه غونډه راوبولي او په گډه د افغانستان د سولې لپاره پر یوه واحده تگلاره سره سلا شي».

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر دغه راز ټینگار کړی، چې دوی به د افغانانو ترمنځ هم د ستونزې د حل لپاره له ترکیې د یوې غونډې د کوربه‌توب غوښتنه کوي: «موږ به همدا راز له ترکیې هم وغواړو، چې د دواړو لورو (جمهوریت او طالبانو) ترمنځ راتلونکې اونۍ د سولې د یوې غونډې کوربه‌توب وکړي».

له دې ورهاخوا د بلېنکن په لیک کې ځینې گوتڅنډنې او خبرداري هم وو. نوموړي د خپل لیک په یوه برخه کې ویلي چې دوی لا هم تر مې میاشتې پورې د سرتېرو د ایستلو پرېکړه نه ده لغوه کړې او په خبره یې، که وضعیت همداسې روان وي، بهرني ځواکونه له افغانستان وځي، نو د دې احتمال شته چې طالبان جگړې شدیدې کړي او د امریکا له مالي مرستو سره سره، په افغانستان کې لا ډېرې سیمې د دغه ډلې په لاس سقوط شي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د خپلو خبرو په ادامه پر افغان سیاسیونو او چارواکو غږ کړی، چې د خپل دریځ د پیاوړي کولو لپاره باید په خپلو کې یووالی وساتي او له خپلمنځي اختلافونو ډډه وکړي. امریکا ویلي، که د افغان سیاسیونو اختلافات روان وي، نو د دې احتمال شته چې په افغانستان کې د نویمو کلونو تریخ وضعیت بیا تکرار شي او دغه هېواد د جگړو پر ډگر بدل شي.

بلخوا افغان حکومت بیا تر اوسه پر دې لیک په واضح توگه خپل دریځ نه دی روښانه کړی. د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکتر عبدالله عبدالله بیا په تازه څرگندونو کې ویلي، چې له نوې طرحې وېره نه ده په کار. د ده په خبره، پر دغه طرحه باید بحثونه وشي او افغانستان په اوسني وضعیت کې بحث او خبرو ته اړتیا لري. عبدالله له ډېرو جزیاتو پرته ویلي، په دې کې شک نه شته چې د افغانستان په اوسني دولت کې به ستونزې وي، خو ټینگار یې کړی چې هره ستونزه د خبرو اترو له لارې د حل وړ ده.

# راپورونه: په یمن کې د وروستیو جگړو او هوایي بمباریو پر مهال نږدې سل کسان وژل شوي



د سعودي عربستان چارواکي وایي، چې د سعودي په مشرۍ ائتلاف وروسته له هغې په یمن کې د ایران له ملاتړه په برخمنو حوثي شیعه یاغیانو هوایي بریدونه وکړل، چې دغې ډلې په سعودي باندې لږ تر لږه د پنځو بې پیلوټه الوتکو بریدونه وکړل.

په همدې حال کې په یمن کې د حوثي یاغیانو او حکومت پلوو ځواکونو ترمنځ په جگړو کې لسگونه کسان وژل شوي دي. د سعودي دولتي رسنۍ وایي چې د دغو بې پیلوټه الوتکو موخه ملکي سیمې وې، خو د دقیق ځای په اړه یې معلومات نه دي ورکړي. په ورته مهال په ریاض کې د امریکا سفارت یوه اعلامیه خپره کړې او وایي چې د جدې ښار ته نږدې او د خمیس مشیط په ښار کې مشکوک بریدونه او چاودونې شوې دي.

د یمن په صنعا کې چې کنټرول یې د حوثي شیعه یاغیانو په لاس کې دی، د سعودي په مشرۍ ائتلاف درنه هوایي بمباري کړې ده. د حوثي یاغیانو ټلوېزیون ویلي، چې د سعودي په مشرۍ ائتلاف اووه هوایي بریدونه کړي دي، چې گڼو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې ده.

ائتلاف وایي، دا بریدونه د حوثي یاغیانو د ډرون د بریدونو په ځواب کې شوي دي. د ائتلاف یوه ویاند ویلي، چې دوی په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د ډرون الوتکو د اوو بریدونو مخه نیولې، چې یوه د جازان د ښار او نور یې د خمیص مشیط پر لوري الوځول شوې وو.

حوثي یاغیانو په دې وروستیو کې پر سعودي عربستان باندې د بې پیلوټه الوتکو بریدونه زیات کړي دي. چارواکي وایي، په دغه ډول بې پیلوټه الوتکو کې چاودېدونکي توکي ځای پر ځای کېږي او بیا الوځول کېږي.

په همدې حال کې د یمن په مأرب او تعز کې جگړې هم زیاتې شوې دی. راپورونه وایي، د حکومت پلوو او حوثي یاغیانو ترمنځ په تازه جگړو کې د دواړو خواوو له ۹۰ ډېر کسان وژل شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د امریکا حکومت د حوثي یاغیانو په دوو مشرانو بندیز ولگول.


په ورته مهال ملگري ملتونه او امریکاهڅه کوي، چې هلته جگړه ختمه شي او سوله وشي. د یادونې ده چې په یمن کې حوثي یاغیانو په ۲۰۱۴ز کال کې له مرکز صنعا څخه په نړیواله کچه پېژندل شوی حکومت لېرې کړ او پر ضد یې جگړې پیل کړې، چې تر دې دمه سلگونه زره خلک وژل شوي، ژوبل شوي او د جگړو له سیمو تښتېدلي دي.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




سېنها: د بلوچستان له کبله په شرم‌الشيخ کې د هند او پاکستان تر منځ تړون ونشو.آيا دا کار د سولې لاره نوره نه پسې اوږدوي؟
دولت: بېچاره منموهن سېنگ. د شرم‌الشيخ د هماغې بيانيې په وسيله له غونډۍ څخه غر جوړ کړی و. هر څه چې هغه وويل، سم يې وويل، که ته وايې چې داسې او يا داسې يې وويل، موږ به بېرته پام ورته وکړو. د ده موخه دا وه چې موږ دا کارونه نه کوو، خو له کله چې تاسو دا خبرې کوئ، نو موږ به بېرته پام ورته وکړو. د نه-نه-نه-نه تر ويلو همدا خبرې سمې وې، چې ويې کړې.
لومړی وزير پر ټولو کوچنيو جزياتو، پر ټولو کوچنيو عملياتو او په نړۍ کې پر هرې کوچنۍ پېښې نه وي خبر. زه فکر نه کوم چې منموهن سېنگ دې غلطې خبرې کړې وي.
دوراني: په لوبه کې بل تر ټولو لوی ويجاړوونکی فکتور رسنۍ دي. دوی داسې فضا رامنځته کوي چې په صداقت او ايمانداري دنده پرمخ نه په کې وړل کېږي.
دولت: رښتيا ده.
دوراني: موږ دواړه دا منو چې له ترهگرۍ سره ګډه مبارزه ښه کار دی. اوس هم دا کار کېدای شي. هر څه چې هغه وويل، د بلوچستان په اړه وو. نو څه شی يې په خبرو کې خطرناک دي، چې ته بېرته پام ورته کوې؟
دولت: بدبختانه دا خبرې ډاکتر منموهن سېنگ وکړې، نه واجپای. ځينې وايي چې واجپای به هېڅکله داسې خبرې ونه کړي. ښايي د واجپای لپاره به ښه خبره دا وي، چې هېڅکله به هم داسې پوښتنه نه وي ترې شوې. هېچا به هم د ده شرمول نه وي غوښتي.
د ډاکتر منموهن سېنگ په قضيه کې د مقام او حيثيت له کبله وخت په وخت دا کيسې راپورته کېدې. که څه هم له همدې خبرو يې موخه سمه وه، خو دی يې ضعيف معرفي کړ. دا کار رسنيو وکړ: «آهه! موږ په خپله اعتراف وکړ، موږ په خپله ومنله!»
لومړی وزير څه ويلی شي؟ ولسمشر څه ويلی شي؟ د هرې مرکې لپاره هر سياستمدار څنګه تياری نيولی شي؟

### ۲۳
### خبرې او ترهگري

دولت: هرکله چې له پاکستان سره زموږ اړيکې نورې هم خړې پړې شي، وايو چې «خبرې او ترهگري په يوه وخت کې نه کېږي.» دا خبرې منطقي دي، خو دا مانا نه چې موږ بايد هېڅکله هم له پاکستان سره خبرې ونه کړو. پاکستان خپله هم د ترهگرۍ قرباني دی. خو دوی ترهگري زموږ پر خلاف هم کارولې ده، نو ولې بايد خبرې ورسره وکړو؟
کله چې خبرې اترې پيل کړې او په يوه بهانه ووايې، چې خبرې او ترهگري په يوه وخت کې نه کېږي، نو يا به هېڅ خبرې نه کوې يا به ماغزه نه لرې. نو بيا دې ولې خبرې اترې پيلولې؟ ولې لاهور ته تللې؟ ولې دې د خبرو کانال جوړاوه؟ ولې ډاکتر منموهن سېنگ خپل وخت ضايع کاوه؟
کله چې نوی ډيلی وايي، چې خبرې او ترهگري په يوه وخت کې نه کېږي، دا کار پر عوامو اغېز کوي. کله چې واجپای لاهور ته روان شو په ډيلي کې خلک خوشبين وو. نن چې په ډيلي کې چاته له پاکستان سره د خبرو په اړه ووايې، هغه فکر کوي چې ته لېونی يې. دی وايي، چې موږ به څه شی ورکوو؟ او بېرته هماغې زړې خبرې ته راځو: آيا پر کشمير ورسره جوړېدای شو؟ روغه جوړه به څوک کوي؟ کله چې د همکارۍ په اړه خبرې کوو، نو ولې ‹روغه جوړه› کلمه کاروو؟ نه موږ پاکستان ته څه ورکولی شو او نه يې پاکستان موږ ته. سوال دا دی، چې څومره همکاري سره کولی شو. په دې اړه ناراسيما راو وايي، چې کله همکاري پيل شي، بيا نو له اسمان پرته نور حدود نه لري.
دوراني: دا جمله ‹خبرې او ترهگري په يو وخت نه کېږي› ما ته نورې دې ته ورته جملې را په زړه کوي.›خبرې او ترهگري په يو وخت نه کېږي.› ‹له خبرو پرته بل انتخاب نه لرو.› ‹جګړه هېڅ ستونزه نه حل کوي.› ‹له ترهگرو سره خبرې نه کېږي.› دا جملې دومره ډېرې ويل کېږي، چې نورې پر ارزښتونو بدلې شوې دي.
دولت: واجپای هېڅکله داسې جملې نه دي ويلې.
دوراني: دا جملې معقولې جملې نه دي.
آيا تاسو له ترهگرو سره خبرې نه کوئ؟ تاسو هر وخت له ترهگرو سره خبرې کوئ. د هر هېواد استخباراتو ته ترهگر د خبرو لپاره تر ټولو مهم کسان دي. که تاسو له ترهگرو سره، مثلاً له طالبانو سره د خبرو کانال نه لرئ، نو په غلطه روان ياستئ.
‹له خبرو پرته بل انتخاب نشته›؟ کله کله يو څوک هغه وخت له ستونزې سره مخامخېږي، چې يو څوک ورته ووايي چې تاسو له خبرو پرته ډېر وخت پاتې شوي ياست، نو ولې بايد داسې ورته وويل شي چې بل انتخاب نه لرو؟
‹جګړه هېڅ ستونزه نه حل کوي›؟ خو جګړه ډېرې ستونزې حل کوي. يوازې ځينې ځانګړې ستونزې د جګړې په وسيله نه حل کېږي. نو آيا خبرې او ترهگري په يو وخت نه کېږي؟ په حقيقت کې اکثره وختونه په يو وخت کېږي.

**دوام لري...**

# مایکروسافټ

حشمت الله نوري




د مايکروسافټ کمپنۍ چې د کمپيوټرونو لپاره پروګرامونه او سافټ ويرونه يا پوسټغالي جوړوي، پنځه ځلوېښت کلنه شوه. دې کمپنۍ د ۱۹۷۵ کال د اپرېل مياشتې په څلورمه نېټه په فعاليت پيل کړی. د دې کمپنۍ مشر بېل ګېټس Bill Gates نومېږي، چې د نړۍ په شتمنو کسانو کې راځي. هغه په ۲۰۱۴ کال کې د نړۍ تر ټولو شتمن کس و. مايکروسافټ په لومړيو کې د بېل ګېټس او پاول اېلن Paul Allen له لوري په ګډه رامنځته شوه. دې کمپنۍ ډېر مهم سافټ ويرونه جوړ کړي دي، چې د مايکروسافټ آفس بېلابېل ورژنونه، چليز سيسټمونه او انټرنېټ اکسپلورر براوزر يې د بېلګو په توګه يادولای شو. د يادې کمپنۍ مرکزي دفتر د امريکا د متحده ايالتونو د پلازمېنې واشنګټن په رېډمونډ سيمه کې دی.
دا د امريکا د کمپيوټر جوړولو څو مليتي کمپنۍ ده. مرکزي دفتر يې د امريکا د متحده ايالاتو په مرکز واشنګټن کې دی. دا په نړۍ کې د کمپيوټر د سافټ وير جوړونې تر ټولو ستره کمپنۍ او مرکز دی.
مايکروسافت د کمپيوټر په نړۍ کې تر ټولو پېژندل شوی نوم دی، د وروستيو معلوماتو له مخې، په دې کمپنۍ کې ۱۱۲۶۸۹ کارکوونکي کار کوي. وروستۍ څېړنه ښيي چې ياده کمپنۍ په کال کې ۶۲ ميلیارده ډالره ګټه لري، چې له دې ډلې يې ۱۸ ميلیارده ډالره خالصه ګټه ده. د يادې کمپنۍ مايکروسافت وينډوز او آفيس تر ټولو ډېر پلورل کېږي. د دې کمپنۍ اصلي شعار په هر کور کې يو کمپيوټر دی. د لومړي ځل لپاره هم د همدې فکر پر بنسټ رامنځ ته شوه او تر نن پورې پر همدې شعار ولاړه کمپنۍ ده. دا دواړه محصوله وينډوز او آفيس د يادې کمپنۍ تر ټولو ستر توليدات دي، چې ۹۰ سلنه ګټه يې له همدې دوو محصولاتو تر لاسه کوي.
د مايکروسافټ لومړی کار د ماشومتوب د وخت دوو همزولو بېل ګېټس او پل جي آلن پيل کړی دی. دوی په لومړي سر کې د پروګرام ليکلو له برنامو (Basic interpreters) کار پيل کړ. دوی له آلتاير کمپنۍ سره ډېر کار کاوه. وروسته وروسته د دوی کار چټک شو. دا دواړه ملګري وتوانېدل چې ځان ته يوه کمپنۍ جوړه کړي او د خپل شرکت سهام بازار ته وړاندې کړي. همدا چې د دوی د سهامو بيې لوړې شوې، يادې کمپنۍ يوازې ۱۲۰۰۰ ميليونران لرل. ۴ ميلیاردران هم د يادو ميليونرانو په سر کې ولاړ وو.
مايکروسافټ کمپنۍ يوازې سافټ وير نه جوړوي، خو سافټ وير د يادې کمپنۍ مهم توليد دی. سره له دې ځيرک ساعتونه، موبايل، لېپټاپونه او په ډېرو برخو کې يې پانګونه کړې ده. دا کمپنۍ د کمپيوټر د سافټ وير تر څنګ هارډوير هم جوړوي. د بېلګې په توګه، د لوبو ايکس باکسونه، زون باکس او نور هغه محصولات دي چې ياده کمپنۍ ډېره ګټه ترې پورته کوي. دا کمپنۍ له بېلو لارو د خپلو مشتريانو خيال ساتي، پر ليکه نړۍ ډېر اکونټونه د مشتريانو نظرونه ته لري، ټلويزيوني خپرونې چې مستقيم د دوی ويانډويان ګډون پکې کوي او همدارنګه د هغو مشتريانو لپاره چې ښکلې نظرونه ولري او د شرکت د نورو مشتريانو لپاره ګټور تمام شي؛ هم لري.
مايکروسافټ کمپنۍ په ۲۰۱۴ کال کې د موبايل جوړونې فنلندي شرکت نوکيا د ۷ نيم ميلیاردو ډالرو په ارزښت واخيست.
ياده کمپنۍ يې د لسو کلونو لپاره اخيستې ده، په دې شرط چې نوکيا نور نشي کولی نور په دې نامه تر لسو کلونو موبايل جوړ کړي. له همدې کبله مايکروسافټ دمګړۍ د موبايلونو په جوړولو پيل کړی دی، خو د ګوتو په شمار هېوادونو ته يې موبايلونه تللي دي.
پاول آلن او بېل ګېټس دواړه د ماشومتوب د وخت ملګري وو، دوی په ډېره مينه کمپيوټرونو ته پروګرامونه ليکل. دوی غوښتل چې ځان ته کسب او کار پيدا کړي. په ۱۹۷۵ کال کې ميکرو شرکت د اتارې په نامه ځينې وسايل جوړ کړل، آلن متوجه شو چې دوی کولی شي دغه وسيلې ته پروګرام جوړ کړي، نو وروسته يې له بېل ګېټس سره اړيکه ټينګه کړه او دا موضوع يې ورياده کړه. وروسته په همدې کمپنۍ کې بېل ګېټس ژباړن مقرر شو او آلن د ورته وسايلو د جوړولو په برخه کې کار پيل کړ. دوی آتارې ته سافټ وير جوړ کړ، هغه کامياب شو او دوی پرېکړه وکړه چې پخپله د پروګرام د جوړولو يو مرکز جوړ کړي. د ۱۹۷۵ کال په اپريل کې مايکروسافټ کمپنۍ د بېل ګېټس په مديريت جوړه شوه. د ۱۹۷۷ کال په اګسټ کې يې له يوه جاپاني شرکت سره هوکړه وکړه، په دې توګه يې خپل لومړنی مرکزي او نړيوال دفتر په جاپان کې پرانيست. وروسته په ۱۹۷۹ کال کې په واشنګټن کې خپل نوي مرکز ته ولاړل. مايکروسافټ خپل لومړنی عملياتي سيستم زنيکس په ۱۹۸۰ کال کې بازار ته وړاندې کړ. وروسته ياده کمپنۍ د ځينو لاملونو له امله په مذاکراتو کې ماته شوه او د نوي سافټ وير د جوړولو هڅه يې وکړه او سي پي ايم يې جوړ کړ.
کمپنۍ ورځ تر بلې مخ ته روانه وه، په ۱۹۹۵ کال کې يې د درېيم ورکس په همکارۍ د لوبتوکو د جوړولو کار پيل کړ، چې وروسته يې په همدې کال کې ۹۵ مايکروسافټ وينډوز جوړ کړ. همدا عملياتي سيستم د دې سبب شو چې نور نو مايکروسافټ خلک د کمپيوټر او ټکنالوژۍ د ډګر سلطان وبولي. د نړۍ ډېرو هېوادونو نور نو وينډوز د خپل هېواد د رسمي عملياتو سيستم په توګه وپېژانده. چين هم په همدې کال کې هغه د خپل رسمي عملياتي سيستم په توګه ومانه. د همدې لسېزې په نيمايي کې بېل ګټس هڅه وکړه چې مايکروسافټ د انټرنېټ نړۍ ته د ننه کړي.
دا کمپنۍ ورځ تر بلې مخکې روانه وه، پلورنځي يې پراخېدل، دفترونه او نمايندهګۍ يې پراخېدې، کارکوونکي يې ورځ تر بلې شتمن کېدل او بالاخره په ۱۹۹۷ کال کې يې د ۹۷ وينډوز تر څنګ، انټرنېټ اکسپلورر هم بازار ته وړاندې کړ؛ خو د امريکا حکومت هغه د مخکينيو تړونونو نقض وباله او له دوی يې وغوښتل چې اکسپلورر له وينډوز سره يو ځای بازار ته وړاندې نه کړي. مايکروسافټ په همدې لړ کې هم خپل کارونه کول او هم يې کوښښ دا و چې له روسي لينوکس سره رقابت وکړي. وروسته وروسته ډېر داسې اسنادونه خپاره شول چې مايکروسافټ د لينکوس پر وړاندې ځينې ورانوونکي فعاليتونه هم تر سره کړي دي. دا اسنادونه د هالووين په نامه يادېږي.
د ۲۰۰۰ کال په اپرېل کې محکمې يو فرمان صادر کړ چې له مخې يې بايد ياده کمپنۍ په دوو برخو وويشل شي، چې بيا د استناف محکمې ځينې حکمونه لرې کړل. مايکروسافټ په هېڅ قيمت خپله موخه نه پرېښوده. دوی په همدې شعار مخ ته روان وو، چې هر کور ته به کمپيوټر رسوي او په هر کور کې به کمپيوټر وي. په ۲۰۰۱ کال کې يې ايکس پي وينډوز جوړ کړ. دا نو هغه څه وو چې يادې کمپنۍ ته يې نوره پياوړتيا هم ور وبښله. مايکروسافټ له دومره کارونو سره جوخت، له سوني، نينتندو او نورو کمپنيو سره هممهاله رقابت لاره او پر ايکس باکس يې ميلياردونه ډالره پانګونه وکړه.
اکس باکس د لوبتوکي په ۲۰۰۵ کال کې د سوني له پلې استيشن وروسته دويم پلور درلود. په دې توګه يې ننتندو ماته کړه؛ خو په نړيوالو بازارنو کې له دواړو شاته وه، په هغه کال سوني ۱۰۰ ميليونه دستاګاوې پلورلې وې، خو مايکروسافټ بيا يوازې ۲۲ ميليونه پلورلې وې.
مايکروسافټ تل د قانون له اړو دوړو سره په کش او ګير کې وه، څو ځله امريکايي محکمو ميليونونه ډالره جريمه کړې او څو ځله له امريکا بهر نورو محکمو هم پرې جريمې وضعه کړې دي. په ۲۰۰۴ کال کې اروپايي ټولنې له مايکروسافټ شکايت وکړ چې پر بنسټ يې مايکروسافټ کمپنۍ ۶۱۳ ميليونه ډالره جريمه شوه. دوی وغوښتل چې له جريمې سره دې دا ژمنه وکړي چې د نورو کمپنيو پښې به نه وهي او تر څنګ به يې د وينډوز داسې نسخه جوړوي چې ميډيا پلير ونه لري.
مايکروسافت کمپنۍ له دومره اړو دوړو برياله را وتلې او نن د ټکنالوژۍ د نړۍ پېژندل شوی نوم دی. دوی خپله دا ژمنه پوره کړې چې تر هر کوره يې کمپيوټر ورساوه، نن هر هغه کور چې بربېښنا ته لاسرسی لري او د سواد پر ګاڼه سمبال ده، کمپيوټر لري. مايکروسافټ د دې تر څنګ ډېر نور کارونه هم کوي. د موبايل جوړول، د لپټاپونو جوړول، د ګيم اکيس باکسونه او سافټ ويرونه.
د مايکروسافټ کمپنۍ کارکوونکي ډېرې اسانتياوې لري او د يادې کمپنۍ په سلګونه کارکوونکي ميليونران دي.
مايکروسافټ په ځانګړې توګه بېل ګېټس د ډېرو خيريه موسسو تر شا ولاړ دی، د پوليو پر ضد کمپاين کې تر ټولو ستره ونډه د بېل ګېټس ده.
د مايکروسافټ وېبپاڼه د نړۍ په هغو پاڼو کې راځي چې تر ټولو ډېر کتونکي لري. د وروستيو شمېرو له مخې، په ورځ کې څه باندې ۱۰۰ ميليونه کسان دا پاڼه ګوري چې ډېرو ته شايد دا خبره د باور وړ نه وي؛ خو دا يو حقيقت دی. يوه خبره چې د يادولو وړ ده، ياده وېبپاڼه پر ډېرو ژبو معلومات لري، خو په دری او پښتو يې خپل معلومات نه دي شريک کړي.
د امريکا متحده ايالاتو کې د نړۍ د شتمنو کسانو شمېر زيات دی او دا مهال ۴۹۲ ميليارډران په دې هېواد کې ژوند کوي. په چين کې ۱۵۲ او روسيه کې ۱۱ ميليارډران دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵۵ |
| € | ۹٤,٤ |
| Rp. | ٤۸٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٦,۲ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# مذاکره ځانګړی هنر غواړي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

موږ په ورځني ژوند کې په اګاهانه یا هم ناګاهانه ډول مذاکره کوو. له مور او پلار سره د دې لپاره مذاکره چې نن شپه له خپلو ملګرو سره کېنم، د ژوند له ملګري، ورور، خور، لور، زوی، ملګرو، پلورونکو، پېرودونکو، رییس، همکار او نورو ټولو سره د دې لپاره مذاکره کوو، چې یو څه تر لاسه کړو. خو که دغه مذاکره له ځینو تګلارو څخه په استفادې چې وروسته به یې ذکر کړو وشي، نو هغه ده چې پایله به یې مثبته وي.

له زرګونو کلونو راپدېخوا مذاکره د انسانانو تر منځ د اړیکو ټینګولو لپاره تر ټولو مهمه او مورجه وسیله ده، چې پر فردي او ټولنیز ژوند یې ډېر ژور اغېز درلودلی دی. د انسان لومړنی مذاکره په کورنۍ کې پیلېږي، چې د خپلو لومړنیو اړتیاوو د پوره کېدو لپاره په ویلو او په حقیقت کې پر مذاکره باندې پیل کوي. دغه تجربه په تدریج سره پراخېږي او خلک د خپلو اړتیاوو د پوره کولو او خپلو ګټو ته د رسېدو لپاره له نورو سره مذاکرې ته دننه کېږي. پام به مو شوی وي کله چې ماشومان له موږ څخه د لوبو سامان او یا هم نور خوراکي توکي غواړي، پرته له دې چې متوجه شو له هغوی سره مو مذاکره پیل کړې وي. د بېلګې په توګه، وایو د لوبو دا سامان خطرناک دی، دا ښه دی، دا ښه نه دی او یا دغه خوراکي شیان مو روغتیا ته زیان رسوي. په یو ډول نه یو ډول ماشومان قانع کوو، چې د ځینو لوبتوکو او یا خوراکي شیانو له اخیستو یې منع کړو. دغه کړۍ همداسې ورو ورو لوییږي او ان په نړیواله کچه تر سیاسي او اقتصادي مذاکراتو پورې رسېږي.

په یاد مو وي چې د مذاکرې د تر سره کولو لپاره هېڅ مطلق او ځانګړی قانون نشته او پوهانو دې هنر ته ځینې ستراتیژۍ او بېلابېل تکتیکونه وړاندې کړي، چې د مذاکرې له سمو تجربه شویو اصولو څخه په ګټې اخیستنې سره کولای شو مذاکرات د ځان په ګټه تمام کړو او مطلوبې پایلې ته ورسېږو.

مذاکره کومه داسې وړتیا نه ده چې په ذاتي ډول دې ترې انسان ګټه واخلي، نو له همدې کبله ځینې انسانان له نورو سره د مذاکرې پر مهال شرمېږي او یا هم ښه احساس نه لري. نو مخکې له دې چې یو زورور مرکچي شخص شو او یا هم د مذاکرې هنر ښه زده کړو، لومړی باید جرئت درلودل تمرین کړو.

مذاکره د دواړو خواوو د ګډو ګټو په نظر کې نیولو سره تر سره کېږي. په اصل کې مذاکره یوه مخامخ جګړه ده، خو پرته له وسلې، بلکې د خبرو، منطق او استدلال پر مټ. هر یو اړخ چې منطقي دلایل وړاندې کړل او د اسنادو او شواهدو له مخې یې خبرې وکړې، د بریا چانس یې ډېر دی.

مذاکره یو هنر دی او هنرمند هغه څوک دی، چې یوه ستونزه د خبرو له لارې حل او مدیریت کړي او پرې نږدې چې پر لفظي او فزیکي شخړه باندې بدله شي. د انسانانو د تفکر بڼه، کړنې او چلندونه توپیر سره لري، نو مخکې له دې چې له یوه چا سره مذاکرې ته دننه شو، ښه ده چې لومړی د هغه د شخصیت په اړه د هغه له دوستانو وپوښتو، مطالعه او تحلیل یې کړو چې څه ډول عادتونه لري او د همدې مواردو په نظر کې نیولو سره بیا مذاکرې ته ور سره دننه شو.

ډېر کله داسې شوي دي چې د مهمو او د لوړې کچې مذاکراتو پر مهال د خپل مقابل لوري د اړینو معلوماتو غوښتنه شوې ده. له دې کار څخه د دوی موخه دا ده چې په دې سوانحو کې د یو بل ګډ ټکي سره وپېژني او د مذاکرې پر مهال یې د بریا چانس زیات شي. د بېلګې په توګه، یوه اړخ د ځان په اړه په خپلو معلوماتو کې لیکلي، چې په پلاني هېواد کې یې کار کړی دی، په پلاني ځای کې یې درس ویلی او یا یې هم په پلانۍ اداره کې بوختیا درلوده. مقابل لوری د دې لپاره چې د مذاکرې پیل په دوستانه ډول وکړي، نو د ګډو ټکو د لټولو هڅه کوي. د بېلګې په توګه، که احیاناً ده هم په هماغه ځای کې کار کړی وي، درس یې ویلی وي او یا اوسېدلی وي، نو خومره ښه ده چې مذاکره په همدې ګډو ټکو پیل شي. کېدای شي دې کس هم سفر کړی وي او د مذاکرې په پیل کې دا خبرې وکړي، چې ستاسو په ژوندلیک کې مې ولوستل، چې په پلاني هېواد کې مو کار کړی دی، زه هم په پلاني کال کې هلته تللی وم. دلته ده چې خبرې په غیر رسمي او غیر مستقیم ډول شروع کېږي او یوه ذهني او عاطفي اړیکه ټینګېږي.

کېدای شي د مذاکرې پر مهال زموږ غوښتنې او ګټې د مقابل اړخ له غوښتنو او ګټو سره په ټکر کې وي، نو دلته موږ کولای شو چې له ځینو خاصو مهارتونو څخه په ګټې اخیستنې، چې وروسته ورته اشاره کوو، د خپلې خوښې پر لوري بوځو، ځو د مقابل لوري خوښه را خپله کړو او مطلوبې پایلې ته سره ورسېږو.

په ډاډ سره ویلای شم چې د مذاکرې د مهارتونو زده کول او تمرین کولای شي زموږ په ژوند کې د نویو فرصتونو د لاسته راوړلو لامل شي او دغه شی ثابت شوي هم دي.

کېدای شي ځینو کسانو ته مذاکره کول اسانه ښکاره شي؛ خو په اصل کې یو پېچلی جریان دی، چې که سم مدیریت نه شي او سم تر سره نه شي؛ ډېر زیانونه له ځان سره لرلای شي. که په دې برخه کې خپل تېر ته پام وکړو، نو د بریا او ماتې ډېر داسې موارد به ومومو چې د مذاکرې پر مهال یې زموږ برخلیک ټاکلی دی او دا د مذاکرې لپاره د اصولو او فنونو د زده کولو لومړیتوب په ګوته کوي.

### ۱. د خبرو اترو له ډول سره ځان بلد کړئ

د کلاګ پوهنتون د مدیریت استاد لي ټامپسن (Leigh Thompson) په خپل کتاب (ذهن او مذاکره کوونکی زړه) کې په دې باور دی، چې د سړک غاړې په یوه رسټورانټ کې د پلورونکي او پېرونکي تر منځ اړیکه یوې لنډې مذاکرې ته ورته ده، چې کېدای شي په ژوند کې څو څو ځله تکرار شي. ډېره به لرې وي چې د هوټل د خدمتګار او مشتري تر منځ بیا ځلي لیدنه سره وشي، نو دې ته بیا یوه لنډه مذاکره ویلای شو. له بلې خوا په یوه کاري چاپېریال کې د کارکوونکو تر منځ خبرو اترو ته بیا اوږدمهالي مذاکرات ویلای شو.

په اوږدمهالي مذاکراتو کې نه یوازې دا چې هغه څه چې پکې تر لاسه کوی یې مهم دي، بلکې د نورو پر کار باندې مو اغېز هم مهم دی.

### ۲. لومړی تاسو وړاندیز ورته وکړئ

دا په دې مانا ده چې د ذهني لنګر اچونې (Anchoring Effect) له اغېز څخه ګټه واخلئ. د لنګري اچونې اغېز یو له هغه تکتیکونو څخه دی، چې د یوه کس په پرېکړو، قضاوتونو او په ټوله کې یې پر باورونو د پام وړ اغېز لري. د لنګر اچونې اغېز د هغو تکتیکونو له جملې څخه دی چې له مخې یې ذهن د پرېکړې کولو پر مهال په هغو اطلاعاتو او معلوماتو تکیه کوي چې په لومړي وار یې تر لاسه کړي دي. ذهن په لومړنیو معلوماتو او د دې معلوماتو پر یوې برخې باندې بوختېږي او ځان ته بیا دومره زحمت نه ورکوي، چې په نورو معلوماتو پسې ورګرځي او یا یې په اړه فکر وکړي. دا معمول هم ده، کله چې ذهن په یوه ځانګړې شي باندې بوخت شي، له نورو یو څه بې پروا کېږي. دلته یوې فرضي سناریو ته کتنه کوو. احمد غواړي یو کرولا موټر واخلي، هر موټر پلورنځي ته چې ورځي، ډېر تمرکز یې د موټر پر ماډل (د کوم کال جوړ) او کیلومتر باندې وي، یانې پوښتي چې دغه موټر څو کیلومتره ګرځېدلی دی. یا په بل عبارت، احمد پر دې دوو ارزښتونو باندې دومره تمرکز کوي، چې نور یې هغه معیارونه له یاده وځي چې په دې برخه کې ډېر مهم دي. لکه دا چې د موټر ماشین څنګه دی، ټکر شوی دی او که نه؟ رنګ یې څنګه دی؟ او نور داسې نور موارد. له دې ښکاري چې کېدای شي احمد ښه ټاکنه ونه کړي، ځکه نوموړي ته همدا دوه موارد مهم دي او ټول تمرکز یې پر همدې مواردو دی.

معمولاً د مذاکرې پر مهال لومړنی وړاندې شوی انتخاب د فرد په ټاکنه کې ډېر زیات رول لري. ټامپس وایي: ډېره کله بریا د هغه چا په برخه وي چې لومړی وړاندیز یې کړی وي. کېدای شي مقابل لوري ته مو وړاندیز رشخند ښکاره شي، هېڅ خبره نه ده؛ مهمه دا ده چې تاسو یو داسې کار تر سره کړی دی، چې له سموالي یې ډاډه یاست.

### ۳. د مذاکرې د مدیریت په برخه کې فعال ګډون

ځینې مرکچیان چې کله یوې جلسې ته د مرکې لپاره ځي، نو په یوه ګوښه ځای کې کېني، خبرې نه کوي او خپل نظر نه وړاندې کوي. یوه مسلکي مرکچي ته لازمه ده چې د جلسې په منځ کې هر ځای چې مناسبه وي، باید خبرې وکړي او د مرکچي پلاوي د یوه غړي په توګه د هغو دندو په اړه چې ور سپارل شوې دي، پوره پوهاوی ولري. دی باید د جلسې پر مهال خپل نظر وړاندې کړي، که نه؛ بریا به د مقابل لوري په برخه وي.

بل مهم ټکی دا دی چې یو مسلکي مذاکره کوونکی باید وکولای شي چې جلسه مدیریت کړي. د ناستې پر مهال ځینې وخت کېدای شي حاشیه‌وي خبرې له اصلي موضوع څخه د وتو لامل شي، خو یو مسلکي مرکچي کولای شي په ډېر مؤدبانه ډول او په ډېرو مسلکي جملو باندې د جلسې موضوع بېرته اصلي موضوع ته را وګرځوي.

## عبدالله: د سولې په تړاو له وړاندې شویو طرحو باید ونه وېرېږو

د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدلله وایي، د افغان سولې پروسې په اړه له وړاندې شویو طرحو څخه باید وېره ونه لرو.

عبدالله تېره ورځ په کابل کې د ښځو د نړیوالې ورځې د نمانځنې په یوې غونډې کې وویل، چې د افغان سولې په تړاو وړاندې شویو طرحو باندې باید خبرې وشي او هغه څه پکې ولټول شي، چې افغانان یې غوښتونکي دي.

نوموړي زیاته کړې، چې په هره طرح کې نیمګړتیاوې وي او باید اصلاح شي.

د هغه په خبره: «که ستونزې لري، باید حل شي. ځینې وختونه کله چې یو دوه عنوانه اخیستل کېږي، هغه ته یو ډول خاص حساسیت ښودل کېږي. زه وایم چې ټول مسایل باید تر بحث لاندې ونیول شي.»

خو نوموړي د دغو طرحو په اړه نور معلومات نه دي ورکړي. عبدالله هغې طرحې ته چې د افغان سولې بهیر په اړه زلمي خلیلزاد له افغان چارواکو او سیاسي مشرانو سره شریکه کړې، په اشارې ویلي: «هغه طرحه چې اوس مطرح شوې، د سولې پروسې د ګړندیتوب لپاه د یوې نظریې په توګه وړاندې شوې، دا د ملي مصالحې د شورا د رییس په توګه له ټولو اړخونو سره شریکوم.»




هغه زیاته کړې، که له طالبانو سره د سولې خبرې یوه ورځ نتیجه ورکړي، د جلا سیستمونو جوړول امکان نه لري او دواړه خواوې باید د یوه نظام په چوکاټ کې سره کار وکړي.

په ورته مهال د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب هم ویلي، چې وړاندې شوې طرحه د امریکا د حکومت رسمي دریځ نه دی، بلکې د سولې د مذاکراتو په پرمخ وړلو کې به مرسته وکړي.

هغه زیاته کړې: «امریکایانو چې هرچا ته دا طرحه ورکړې، ورته یې دا پیغام هم ورکړی چې دا د هغوی د حکومت طرحه نه ده، بلکې داسې یوه طرحه ده، چې د سولې بهیر لږ چټک کړي.»

محب ویلي، چې افغان حکومت په یادې طرحې غور کړی، چې تر ډېره د افغانستان د سیاسي نظام د جوړښت په اړه ده. دا څرګندونې په داسې مهال کېږي چې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د سولې په خبرو کې د پرمختګ لپاره له افغان چارواکو سره د نورو بدیلو لارو په تړاو بحثونه کړي دي.


مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








دوشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۸مه | د ۲۰۲۱ د مارچ اتمه | ۶۷۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۲۱ | ۲۳ | ۲۰ | ۲۵ | ۲۲ |
| ۳ | ۷ | ۸ | ۸ | ۱۲ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۵۱ | لمر ختل ۰۶:۱۶ | ماسپښین ۱۲:۰۵ | مازیګر ۰۴:۱۳ | ماښام ۰۵:۵۴ | ماخوستن ۰۷:۱۳

## نړۍ



**راپورونه: په یمن کې د وروستیو جګړو او هوايي بمباریو پرمهال نږدې سل کسان وژل شوي**

۳

## امریکا: که ایران خپل دریځ بدل نه کړي، بندیزونه به پر خپل حال پاتې شي



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن ویلي، چې دوی پر ایران باندې د ټرمپ د دورې بندیزونه نه کموي؛ ځکه چې د ده په وینا، امریکا غواړي ځان ډاډه کړي چې ایا ایران شویو وعدو ته ژمن دی او کنه.

بلېنکن زیاته کړې، دوی په وار وار ویلي چې امریکا غواړي له ایران سره شته ستونزې د ډیپلوماسي له لارې حل کړي.

د نوموړي په وینا، د پرېکړې لپاره اوسنی انتخاب د ایران په واک کې دی او دوی منتظر دي چې وګوري ایران له دې فرصته څه ډول ګټه پورته کوي. بلېنکن ټینګار کړی، چې دوی به له ایران سره د نږدې کېدو لپاره یو قدم هم وړاندې وانه‌خلي.

دا څرګندوني وروسته تر هغې کېږي، چې امریکا ایران ته د غیر رسمي ناستې وړاندیز کړی، خو ایران بیا ویلي چې تر څو پورېورباندې لګول شوي بندیزونه نرم نه شي، دوی په هېڅ راز لیدنه کې ګډون نه کوي.

امریکا بیا د ایران دغه اقدام د اندېښنې وړ بللی او ټینګار یې کړی، که ایران غواړي، چې د لانجمن اټومي پروګرام په تړاو له نړیوالو سره یوې هوکړې ته ورسېږي، نو ډیپلوماسي او خبرې یې یوازینی حل دی. ایران بیا ټینګار کړی، چې دوی د ۲۰۱۵ز کال د شوې اټومي هوکړې عملي کېدل غواړي او په دې اړه نوي شرطونه ورته د منلو نه دي.

## د روغتیا نړیوال سازمان: په اروپا کې یو ځل بیا د کرونا ویروس مثبتې پېښې په ډېرېدو دي

د روغتیا نړیوال سازمان وایي، په اروپا کې یو ځل بیا د کرونا ویروس مثبتې پېښې د ډېرېدو په حال کې دي. د یاد سازمان په وینا، په تېرو شپږو اونیو کې په اروپا کې د کرونا ویروس پېښې مخ په کمېدو وې، خو په وروستۍ یوه اونۍ کې یو میلیون نوې پېښې ثبت شوې، چې د مخکې اونۍ په پرتله نهه سلنه ډېروالی ښيي.

د روغتیا نړیوال سازمان دغه راز زیاتوي، چې ډېری نوې پېښې د کرونا د نوې بڼې دي. د کرونا دغه ډول ویروس په ۱۰ هېوادونو؛ برېټانیا، ایټالیا، ایرلنډ، جرمني، فرانسه، هالنډ، اسراییل، اسپانیا او پورتګال کې زیات دی. په ورته مهال، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۷ میلیونه او ۱۹۱ زره او ۸۶۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۶۰۱ زره او ۶۵۲ کسان مړه شوي او نږدې ۹۳ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۹ میلیونه او ۶۵۴ زره او ۳۱۰ ته رسېدلي او ۵۳۷ زره او ۱۲۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

## محب: طرح پیشنهادی خلیل‌زاد برای صلح، طرح دولت امریکا نیست



حمدالله محب، مشاور امنیت ملی در نشست خبری مقام‌های ارشد امنیتی اعلام کرد که طرح تازه‌ای را که زلمی خلیل‌زاد، نماینده ویژه امریکا در امور صلح افغانستان به دولت و شماری از سیاسیون در پیوند به روند صلح سپرده است، طرح دولت امریکا نیست.

از این طرح به عنوان «طرح دولت انتقالی صلح» یاد شده است. محب دیروز، هفدهم حوت در نشست خبری مقام‌های ارشد امنیتی گفت که این طرح به حکومت و شماری از سیاسیون سپرده شده است، اما طرح از سوی حکومت امریکا تهیه نشده است.

مشاور امنیت ملی گفت که این طرح برای تسریع روند صلح تهیه شده است و بیش‌تر ساختاری است. به گفته او، این طرح بیش‌تر روی تقسیم قدرت متمرکز است تا بتواند مشکلات امنیتی را حل کند.

محب تأکید کرد که حکومت افغانستان همیشه آماده‌گی برای مذاکرات صلح را دارد، اما همه مشکل روی «ساختارها» نیست؛ بلکه اختلاف‌ها روی ارزش‌ها و نحوه حکومت‌داری است.

محب گفت که گروه طالبان طرف‌دار نظام «امارت» است و دولت افغانستان جمهوریت می‌خواهد. در طرح پیشنهادی که خلیل‌زاد به دولت و شماری از سیاسیون سپرده است، پیشنهاد شده است که یک نشست در «سطح بلند» زیر نظر سازمان ملل متحد در در سطح بلند برگزار شود. محل این نشست ترکیه گفته شده است. محب آماده‌گی دولت را برای شرکت در این نشست نیز اعلام کرد. حمدالله محب درباره ارتباط این طرح با سفرهای سیاسیون به پاکستان گفت که این کشور یکی از عوامل جنگ در افغانستان است، اما سفرهای سیاسیون شخصی بوده است.

## ژوند

## شین چای له ښایست سره مرسته کوي



په شین چای کې شته انټي اکسیډونه، پولي فینول او کافین د عمومي روغتیا لپاره ډېر ګټور دي. پر دې سربېره، شین چای د انسان پوټکی او وېښتان هم روغ او تازه ساتي. شین چای پوستکی ژر زړښت ته نه پرېږدي. هغوی چې شین چای څښي، پوستکی یې ځوان وي او ژر نه ګونځې کېږي. په شین چای کې شته انټي اکسایډونه له زړښت سره مبارزه کوي. شین چای د باکټریا ضد خصوصیات لري. شین چای د مخ تور داغونه له منځه وړي او مخ ته ښکلا ورکوي. د مخ باکټریاوې هم وژني او د مخ پوټکی روغ ساتي. یوه پیاله شین چای تیار کړئ، کله مو چې وېښتان پرېمنځل؛ د شنه چای نم ورکړئ. دغه څه مو وېښتانو ته ښکلا او ځانګړې بوی هم ورکوي. له دې وړاندې ځېنې کسان په دې اند وو چې ګواکې شین چای د انسان پوستکی وچوي، خو اوس څېړنو ثابته کړې ده، چې شین چای د پوستکي له ښایست سره مرسته کوي.

## شیاومي د ریډمي کې۴۰ درې موبایلونه معرفي کړل

شیاومي کمپنۍ د ریډمي پیاوړو ځیرکو موبایلونو د لړۍ درې نوي پیاوړي ځیرک موبایلونه معرفي کړل. ریډمي کې۴۰ دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۷۰ ډوله پروسېسر او اډرینو۶۵۰ ډوله ګرافېکس کارول شوی دی. ریډمي کې۴۰ به ۱۲/۸/۶ ګېګابایټ رم او ۲۵۶/۱۲۸ ګېګابایټ وړتیا لرونکې بڼې ولري.

کې۴۰ پرو

کې۴۰ پرو به د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۸۸ ډوله پروسېسر او ۸/۶ ګېګابایټ رم او ۲۵۶/۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ولري. کې۴۰ پرو کې ۱۲ ګېګابایټ رم لرونکې بڼه نه ده ورکړل شوې.




ریډمي کې۴۰ پرو پلس

دغه ځیرک موبایل د نورو په پرتله تر ټولو پیاوړې ۱۰۸ مېګاپکسله کامره لري. له دې سربېره ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل او ۵ مېګاپکسله ټېلې فوټو کامرې هم لري. مخکینۍ برخه کې ۲۰ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري.